# امنيتي تړون بايد د سامري د خوسي په څېر وسوځول شي!




څلور کاله مخکې له امريکا سره کرغېړن، ناولی او نا روا امنيتي تړون د جان کيري د حکومت په لومړيو ۴۸ ساعتونو کې لاسليک شو. د دغه تړون د سياسي، ستراتيژيکو او سيمه ييزو پايلو په اړه مو په وار-وار خبرداري ورکړل. آن د اسلام له نظره مو له بالفعل محاربې او يرغلګرې امريکا سره د دغه تړون شرعي حکم بيان کړ. له سياستوالو، متنفذينو، خبريالانو او تحليلګرانو سره مو په دې اړه پراخې سياسي ليدنې کتنې وکړې. د ټولنيزو شبکو پر مټ مو هم سياسي کمپاينونه ترسره کړل، ترڅو د دغه تړون پايلې، د هغه کرغېړنتوب او شرعاً نارواتوب خلکو ته بيان کړو.

مګر بيا هم ګڼ شمېر داسې کسان وو چې د ريښتيني ناجي «اسلامي دولت؛ خلافت» د تاسيس چاره يې بې وخته او له کوه طور څخه بنو اسرائيلو ته د تورات راوړل ګڼل. اما له امريکا سره امنيتي تړون يې د سامري د خوسي په څېر عاجله حللاره او د خلاصون يوازينۍ چاره بلله. د سامري د خوسي پلويانو په سر کې، تش په نامه راغوښتل شوې مشورتي لويه جرګه، د هغې مشر صبغت الله مجددي، د وخت پارلمان، مدني ټولنې او ګڼې رسنۍ وې. دغو ټولو د اسلام پر بنسټ زموږ ټولو وينښوونکو سياسي هڅو ته شا کړه او د امريکا بلنې ته يې لبيک ووايه.

خو څلور کاله وروسته د دغه تړون اکثره پلويان په دې قانع شول، چې امنيتي تړون سراسر د افغانستان او د هغه د مسلمان ولس په زيان دی. امريکا د دغه تړون هېڅ مادې ته ژمنه نه ده. يوازې د افغان وژنې د قبالې په توګه ګڼه ورڅخه پورته کوي. نه يې امنيتي ځواکونه تجهيز کړل، نه يې د پاکستان او تاجکستان د بريدونو پر وړاندې د افغانانو ملاتړ وکړ او نه يې د ملکي افغانانو د ژوند خونديتوب ته پام وکړ. بلکې افغانستان يې د چين، روسيې، ايران، پاکستان او امريکايي ګټو د تقاطع پر ټکي او د نشه يي توکو په مزرعه بدل کړ. تر دې چې په کابل کې پر خبريالانو، شيعه ګانو، په جلال آباد کې پر سنيانو او سکانو وژونکي بريدونه وشول. ګڼو ولسواليو او ځينو ولايتونو سقوط وکړ. فقر، لوږه او بېکاري خپل اوج ته ورسېده. لسګونه کماندو ځواکونه د وسله والو له خوا ووژل شول، خو چا يې غږ وانهورېد؛ مګر د طالبانو له خوا محاصره شوي داعشيان د هليکوپټرو په واسطه تر سياسي مېلمستونونو پورې يوووړل شول. دې ته ورته نامعلومو الوتکو د بېلابېلو جنګي ډلو د تجهيز په موخه د افغانستان په ګوټ-ګوټ کې الوتنې وکړې. د جګړې ډګر يوازې د افغانانو په وينه ګرم وساتل شو، ځکه امريکايان د دغه تړون له برکته د جګړو له کرښو په شا شول او د پياوړو دېوالونو تر شا خوندي کېناستل. خپل هر جنايت يې د تعليم، تربيې، تجهيز او لارښوونې تر نامه لاندې د افغان امنيتي ځواکونو، کرايي قاتلينو او استخباراتي ځواکونو پر مټ د افغانستان په ګوټ-ګوټ کې ترسره کړ.

د صبغت الله مجددي په شمول، د مشورتي لويې جرګې ګڼ شمېر غړي، د پارلمان زياتره وکيلان، حکومتي چارواکي، خبريالان او د مدني ټولنې ګڼ شمېر فعالان اوس په دې اند دي، چې پر دغه هوکړه ليک بايد له سره کتنه وشي. مګر د هغوی د دغې غوښتنې پر وړاندې هم د امريکا سفارت لاس په کار شوی، د دوی دا هڅه يې بهرنۍ جاسوسي ګڼلې او غوارې په بېلابېلو لارو آن پارلمان ته د برياليتوب په واسطه هغوی ته امتيازونه ورکړي، ترڅو د

امریکا له دغې سرې کرښې سره نور څوک تماس ونه نیسي. په دغه بهیر کې ګڼ شمېر پورتني قشرونه چپ او حتی د تش په نامه پارلمان د ټاکنو پر کمپاین بوخت کړل شوي دي، مګر بیا هم په دې برخه کې پراخه نارضایتي دوام لري.

پورتني واقعیت ته په کتو پر ټولو افغانانو؛ چارواکو او رعیت غړ کوم چې زموږ حللاره د طور له غره څخه بنو اسرائیلو ته د تورات راوړل نه، بلکې ستاسو په کورنو کې په مصحفونو او د سنتو په کتابونو کې مدونه ده. تر زرو کلونو ډېره د خلافت د نظام تر چتر لاندې په بریالیتوب پلې شوې ده، چې د اسلامي امت د طلایي دورې په توګه یادېږي. تاسو ټول مسلمانان یاست، د اسلام په لار کې مو ګڼې قربانۍ ورکړې دي. اوس څه درباندې شوي چې د امریکا او ناټو شتون او له هغو سره هوکړه لیکونو ته تسلیم شوي یاست. یو ځل بیا په ټینګار سره وایم چې د امریکا او ناټو شتون ته تسلیمېدل د سامري د خوسي په واسطه د غولېدلو او انحطاط حیثیت لري. که تاسو ټول په قرآن او سنتو او د هغو پر حللارو منګولې ولګوئ، د سامري مکر او چل باطلیږي او په دې برلاسي کیږو چې د سامري خوسی وسوځوو او مسلمان ولس یې له شره خلاص کړو. دغه ریښتینې حللارې ته مو حزب التحریر رابولي! حزب التحریر د امت د ریښتیني لاربنود په توګه د دې وړتیا لري، چې د ژوند ټولو ستونزو ته د اسلام پر بنسټ عملي ځواب ووایي. نو په دې اړه د «امنیتي تړون؛ د ذلت او مرګ تړون» تر نامه لاندې په سیاسي کمپاین کې پراخه ونډه واخلئ، ترڅو د یرغلګرو، ښکېلاکګرو او د هغوی د خاینو لاسپوڅو مکر خپله دوی ته وروګرځوو.

﴿وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ﴾ (فاطر: ٤٣)

او دغه ناوړه مکر یوازې د هغه د اهل لمن نیسي.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**